به عمل کرد سازنده رسانه ها درجامعه نهایت ضرورت است

در جهان امروز وسایل ارتباط جمعی، روزنامه، رادیو، تلویزیون و سینما با انتقال اطلاعات و معلومات جدید و مبادله افکار و عقاید عمومی، در راه پیشرفت فرهنگ و تمدن بشری نقش بزرگی را بر عهده گرفته اند طوری که بسیاری از دانشمندان، عصر کنونی را «عصر ارتباطات» نامیده اند. تمرکز گروه های وسیع انسانی در شهرهای بزرگ، شرایط خاص تمدن صنعتی و پیچیدگی وضع زندگی اجتماعی، وابستگی ها و همبستگی های ملی و بین المللی، ناامنی و بحران ها، تحول نظام های سیاسی و اجتماعی و مخصوصاً بیداری وجدان اجتماعی همه از جمله عواملی هستند که روز به روز نیاز انسان را به آگاهی از تمام حوادث و وقایع جاری محیط زندگی بیشتر می کند تا جایی که پیشرفت وسایل ارتباط جمعی و توسعه اقتصادی و اجتماعی و تحکیم مبانی دموکراسی و تفاهم بین المللی لازم و ملزوم یکدیگر شده اند. در این جوامع افراد کوشش می کنند همیشه در جریان همه امور و مسائل اجتماعی قرار داشته باشند تا بتوانند به طور مستقیم یا غیرمستقیم نقش خاص خویش را در زندگی گروهی ایفا کنند. به همین جهت آگاهی اجتماعی از مهم ترین ویژگی های زمان معاصر به شمار می رود و همین آگاهی است که انسان را به زندگی فردی و جمعی علاقه مند می سازد و توجه او را به آزادی ها و مسوولیت های وی جلب می کند.

به این ترتیب در جامعه امروز یک فرد تنها موقع می تواند بهترین و مطمئن ترین امکانات و وسایل زندگی را برای زندگی گروهی به دست آورد که دارای معلومات و اطلاعات کافی، خط مشی های صحیح و افکار و عقاید سالم باشد و این امر با استفاده از وسایل ارتباط جمعی، روزنامه ها، نشریات، کتب، سایت های اطلاعاتی امکان پذیرمیگردد. یکی از ابزارهایی که در جوامع امروزی رشد و گسترش یافته است رسانه های گوناگون با رویکردهای مختلف است. یک رسانه برای آغاز فعالیت راه دشوار را باید طی نماید. شناخت مخاطب و اهداف که در نظر دارد باید کاملاً شفاف، روشن و مشخص شود یعنی استراتژی خود را قبلاً مشخص کند وبا این استراتژی به تعریف کارکردهای خود بپردازد، سپس آغاز به فعالیت کند. پس از آغاز نیز باید سختی ها و مشکلات فراوانی را تجربه کند.

نگاه واقع بینانه به مسائل جامعه و به خصوص مسائل اجتماعی æ اقتصادی خود یک نقد سازنده است. مطمئناً اگر رسانه یی بتواند نقش خود را در انعکاس بدون کم و کاست و واقعی یک اتفاق و ماجرای اقتصادی، اجتماعی، فرهنگی و سیاسی رعایت کند خود گام مهمی در ایجاد و شکل دهی افکار عمومی برای نقد مسائل برداشته است.

یکی از مهم ترین ابزارهایی که یک رسانه می تواند با استفاده از آن عکس العمل طرف های مخاطب را درخصوص موضوعات گوناگون بسنجد، سنجش افکار عمومی از طرق گوناگون مانند تهیه پرسشنامه، مصاحبه، دریافت نظرات و انتقادات است.

مسوولیت رسانه ها دربرابراجتماع بسیارزیاد است،جامعه که درآن توده زیاد مردم با افکاروطرزدیدگوناگون زندگی میکند وازهرکدام آنها بینش شان دربرابرجهان وپدیده های دیگرمختلف میباشد به همانگونه رسانه ها نیز باید با درنظرداشت خواسته همه آنها نشرات نمایند. ازآنجایکه رسانه ها نقش سازنده ای درتمام عرصه های زندگی جوامع بشری ایفاء میکند همانگونه دربخش اجتماعی جوامع بشری نیزرول اساسی دارد، درشرایط کنونی نقش رسانه ها جمعی درسمت دهی اصلاحی افکارعامه نهایت ارزنده است وایجاب میکند که رسانه های کشور درپخش ونشر برنامه های شان منافع ملی وتحلیل وضعیت روز را با جدیت درنظرگیرند.

ترتیب کننده : امین الله (صفا)

زمان برای مطالعه

مطالعه هنگام صبح از هر زمان دیگری بهتر است،مطالعه کتاب را صبح وقت شروع کنید زیرا ذهن انسان بعد از چند ساعت استراحت و آرامش، بیش از هر زمان دیگری آماده یاد گیری است.

قبل از مطالعه صبحانه صرف کنید ،زیرا گرسنگی در کاهش میزان یادگیری تاثیر زیادی دارد.

چند دقیقه بعد از غذا مطالعه را آغاز کنید.

و همچنان باید گفت که هر وقت احساس کردید ؛ که میتوانید مطالعه کنید درس خواندن را شروع کنید.

زمان مطالعه بستگی به خود شما دارد که چه زمانی از نظر جسمی و روانی آمادگی لازم دارید. ؟گر نسبت به زمان های خاصی برای مطالعه آماده شده اید آن او قات بهترین زمان مطالعه است.

زمان مطالعه برای افراد تفا وت میکند برخی در سکوت شب برخی نیز هنگام صبح را به عنوان زمان مطا لعه انتخاب میکند .

وقتی که صبح زود را برای مطالعه انتخاب میکنید حتماً قبل از آن صبحانه صرف کنید زیرا گرسنگی در کاهش میزان یادگیری تاثیر زیاد دارد پیش از صرف غذا نیز بلا فاصله شروع به مطا لعه کتاب نکنید وچند دقیقه بعد ازغذا مطالعه را آغاز کنید ورزش ونر مش وحتی حمام گرفتن نیز پیش از مطا لعه در میزان یاد گیری موثر است مطا لعه صبحگاهان هنگام مفید واقع میشود که فرد شب قبل را به خوبی استراحت کرده باشد وخسته وخواب آلوده نباشد برای مطا لعه هرچه سحر در هنگام صبح سعی کنید شب را زوتر بخوا بید تا بتوانید مطا لعه مفید داشته باشید وخستگی مغزی انسان را کاهش میدهد.

عبدالاحمد (فیضي) مدیرعمومی کتابخانه

د لوګر ولسونو په افغانستان کې د سولې او امنیت په اړه د اسلامي علماوو له وروستي دریځ نه ملاتړ وکړ

دزمري ۱۲ مه: د لوګر ولایت مقام د شهید عبدالله وردګ په تالار کې په همدې مناسبت غونډه جوړه شوې وه؛ چې پکې د لوګر د سولې شورا رییس مولوي اسدالله حنیف، د سولې شورا غړو ، د ولایتي شورا پخوانۍ غړې هما احمدي ، آسیندیزې حوزې مشرې انجنیر زهره مطهر احمدزۍ ، ښځو چارو رییسې شیما زرګر ، آاطلاعاتو اوفرهنګ Ñیيس محمد شفیق پوپل، قومي مشرانو ، ځوانانو ، مدني فعالانو ، د سولې تږو او ګڼو نورو لوګروالو ګډون کړ í Ä.

په یاده ناسته کې چې ټول ګډونوال یې ملکي وګړي ؤ ، په افغانستان کې د دایمې سولې پر غوښتنه ټینګار وشو او هم د هغه کنفرانس څخه ملاتړ وشو کوم؛ چې په سعودي عربستان کې د اسلامي هېوادونو د علماوو لخوا جوړ شوی Ä؛ چې پکې د افغانستان روانه جګړه فتنه وبلل شوه او د جګړې له ښکېلو اړخو د جګړې د درېدو او بس کېدو غوښتنه شوې وه. محمد شفیق پوپل ځوانانو ته د سولې په اړه یادونه وکړه، چې دوی دې د سولې په تامین کې خلک وهڅوي او په هیواد کې دې ډاډمنه سوله په راوستوکې نه ستړيکیدونکې مبارزه وکړي.

یاده غونډه کې د لوګر د سولې شورا رییس مولوي اسدالله حنیف ګډونوالو ته د ښه راغلاست تر څنګ په سعودي عربستان کې د وروستۍ ناستې پرېکړه لیک ولوست او له دواړو لورو یې غوښتنه وکړه؛ تر څو سوله وکړي او دایمي اوربند رامنځ ته کړي.

ورپسې د لوګر د حج اوقافو ریاست مرستیال مولوي احمد نبي احمدي وویل: دافغانستان ولس د دایمې سولې او اوربند تږي دي او له دواړو لورو غواړي تر څو جګړه بس کړي او افغانان د ېته پرېږآ í ؛ چې په آرامه فضا کې خپل ژوند وکړي.

بیا د دیني علماوو په استازیتوب مولوي امیرجان د سولې په ارزښت خبرې وکړې او د سولې او دایمي اوربند د رامنځ ته کېدو غوښتنه یې وکړه.

په یاده غونډه کې د هلمند د سولې کاروان غړي غلام سرور غفاري د سولې د ارزښت په تړاو خبرې وکړې او سوله یې د افغانانو یوازینۍ هیله یاده کړه. ده وویل: چې په افغانستان کې نه په افغانیت رحم کېږي؛ نه په انسانیت او دا داسې دښمن دی؛ چې په هیڅ څه رحم نه کوي. نو څکه مونږ پاڅېدلي یو او دا حرکت مو پیل کړي دی. Ïå0یاته کړه، سوله په زاریو نه راځي او هڅو او کوښښونو ته اړتیا لري.

یاده غونډه کې د لوګر ولایتي شورا غړې هما احمدي او د لوګر د سیندیزې حوزې Ñیيسې زهره مطهر احمدزۍ د سولې په اهمیت او د جګړې په بدبختیو خبرې وکړې.

د ویلو وړ ده چې په افغانستان کې په دې وروستیو کې د سولې د راتګ لپاره هڅې زیاتې شوې دي او حکومت په پلان کې لري؛ چې په را راوان لوی اختر کې اوربند اعلان کړي او هم له وسله والو غواړي چې د سولې اوربند وغځوي.

دسولې فتوا: آتیرو څو لسیزو او په ځانګړې ډول په تیرو ۱۶ کلونو کې دېر دېو لخوا تپل

شوې جګړې له دغه مسلمان ولس څخه دسراومال بیشمیره قرباني اخیستې او دالړۍ هم روانه ده. چې په دې هکله دافغانستان له هرګوټ څخه ۲۹۰۷ تنه ديني عالمان د روژې مبارکې میاشتې په ۱۹ مه، چې د۱۳۹۷ هجري لمریز کال دغبرګولي یا جوزا دمیاشتې په ۱۴ مه دیوې تاریخي غونډې په ترڅ کې چې دکابل ښار دلوی جرګې په خیمه کې را غونډ شوي ؤ، په پای کې دقراني نصوصواو احادیثو په رڼا کې علماء په اتفاق سره دغه فتوا صادره کړه :

۱.دافغانستان اسلامي جمهوریت چې له ۹۹ فیصده ډیر خلک یې مسلمانان دي او اساسي قانون یې دسیمې په کچه تر ټولو ډیر اسلامي قانون دی، پروړاندې یې وسله واله مبارزه او دجهاد ترنامه لاندې کړنې هیڅ راز شرعی جواز نه لري؛ ددیني نصوصو په اساس دجهاد حکم یوازې داسلامي دولت (مسلمان حاکم) صلاحیت دی.

۲.داچې په افغانستان کې جګړه ورځ تربلې پسې غځیږي او هره ورځ ددې جګړې په ترڅ کې له دواړو غاړو او ولسي خلکو کسان وژل کیږي او دجګړې په تداوم هیڅ راز فایده مرتبه نه ده، بلکې ګټې یې یوازې دښمنانو ته رسیږي، نو دجګړې دواړه غاړې حکومت او طالبان باید دسولې خبرو ته کیني او روان ناورین ته دپای ټکی کیږدي.

۳.په اسلام کې انتحار او انفجار هیڅ ډول شرعي اساس نه لري، نو په همدې دلیل ټول ترسره کیدونکي ځانمرګي بریدونه، ترور، لارې شکول او ویره اچونه په قطعي توګه حرام دي، ترسره کول، تمویلول او ورسره مرسته کول یې ناروا او غیر شرعي دي.

۴.هرهغه څوک چې سولې ته غاړه نه ږدي دالله (Ï) او درسول الله (Õ) پروړاندې مسؤل دی او په ښکاره توګه دالله تعالی له اوامرو سرغړاوی کوي.

۵.افغاني ټولنه یوه اسلامي ټولنه ده، دهر ډول دیني او اخلاقي مفاسدو ترویجول او ټولې هغه کړنې چې له دیني اساساتو سره په ټکر او دځوانانو دبې لارۍ سبب کیږي مردودې دي اوباید مخنیوی یې وشي.

۶.دمسلمانانو ترمنځ دقوم، ژبې او مذهب پربنسټ هرنوع نفاق، تعصب، تبعیض او ورته کړنې داسلام دمبین دین له اساساتو سره مغایرت لري او ترسره کوونکي یې له اسلامي احکامو څخه سرغړوونکي شمیرل کیږي او ددغو ناروا اعمالو اویا هغه ته وسیله ګرځیدل ټول منع او دسزا وړ ګڼل کیږي.

۷.موږ دهغو افرادو ، بنسټونو ، ډلو او هیوادونو مداخله چې په افغانستان کې دجګړې د دوام سبب ګرځي او دافغان وژنې اونفاق لامل کیږي، په کلکه ردوو او محکموو.

پای ټکي:

-موږ علماء د روان وضعیت له عمق تحلیل او ارزونې وروسته په دې عقیده یو چې دسولې لپاره ملي، سیمه ییزه او نړیواله اجماع رامنځته شوې او دحکومت انعطاف او مخلصانه وړاندیز پر دې دلالت کوي، فلهذا پرطالبانو غږ کوو، چې مذاکرات او مخامخ خبرې یوازینې طریقه ده، چې د دواړو غاړو ټولو غوښتنو او ستونزو ته پکې زموږ له اسلامي او ملي ارزښتونو سره سم حل لارې موندلی شو.

-موږ دافغانستان علماء مطلقاً په دې عقیده یو ، چې اسلام دسولې، تحمل او اخوت دین دی او په اسلامي هیوادونو او ټولنه نړۍ کې افراطیت او خشونت ترهر نامه لاندې چې وي، غندو.

-له ملي، سیمه ییزو او نړیوالو اسلامي بنسټونو علماؤ او مجتهدینو څخه زموږ غوښتنه داده، چې ددې فتوا ملاتړ وکړي او په دې توګه په افغانستان کې دنورې وینې توئیدنې دمخنیوي په هکله خپل مسؤلیت اداء کړي.

-موږ داسلامي مراکزو ، مدارسو او دیني بنسټونو اړونده علماء خپله فتوی دالله (Ï) د رضا ، دخپل دیني مسؤلیت آ اداء کولو او په افغاني ټولنه کې دسوله ئیز او هوسا ژوند دبرابرولو په موخه اعلانوو او له الله (Ï) څخه توفیق او مرسته غواړو ، چې دسولې او هوساینې په برخه کې زموږ مرسته وکړي.

والله ولي التوفیق

افغانستان کې دسولې او امنیت په اړه داسلامي عالمانو نړیوال کنفرانس چې د۱۳۹۷ هجري لمریزکال دچنګاښ یا سرطان په ۱۹ مه دسعودي عربستان په مکه مکرمه کې جوړ شوي ؤ، دغه لاندې ټکي دپریکړه لیک په صادرولو پای ته ورسید æ؛ موږ دغه مهم ټکي په دې ګڼه کې نشر ته وسپارل .

دافغانستان دولت یو اسلامي دولت دی، خلک یې مسلمانان دي، وژل یې ناروا دي، دسولې او امنیت تږي دي. دمسلمان وینه تویول حرام دي او هغه څه چې افغانستان کې روان دي او هره ورځ بیګناه انسانان پکې وژل کیږي، داسلام داصولو او اساستو سره مخالفت کې دي همدارنګه دغه کړنې داسلامي ټولنې دیوالي او خوندیتوب خلاف عمل دی. موږ په دې برخه کې له هیوادونو ، سازمانونو اوفکري مسلمان قشر څخه غوښتنه کوو ، چې په افغانستان کې دامن او سولې په برخه کې خپل مثبت رول ولوبوي، خپل ټول امکاناتو اونفوذ په کار واچوي، څو دغه سپیڅلي هدف ته ورسیږو او دالله (Ï) او درسول (Õ) د ارادې سره سم په اسلامي هیوادونو کې باعزته ژوند ته لاره هواره کړو. دقرانکریم اونبوي احادیثو پر بنسټ اسلام دامن او رحمت دین دی او مومنان په خپلو منځو کې په مینه او محبت مامور دي، دمسلمانانو وینه تویته، مال او ناموس ته نږدې کیدل حرام دي، موږ تاکید کوو ، چې انتحاري بریدونه چې په پایله کې یې بې ګناه خلک په نښه کیږي، همدارنګه دمسلمانانو ترمنځ خپلمنځي جګړې دالله (Ï) او درسول الله (Õ) په قطعي ثبوتونو او دلایلو سره حرامې ګرځولي دي. ...

... په همدې اساس موږ په افغانستان کې روانه جګړه غندو او له ټولو ښکیلو خواو غوښتنه کوو ، چې دالله (Ï) امر ته غاړه کیږدي، جګړه دې ودروي، دخپلو ورونو ترمنځ دې سوله وکړي او دفتنه دغه بل شوي اور دې مړ کړي، په همدې اساس موږ په افغان حکومت او طالبانو باندې غږ کوو ، چې اوربند ته غاړه کیږدي او مخامخ خبروته کیني.

دځوان شاعر نصیب الله مهمند لنډه پېژندنه

نصیب الله مهمند دحاجي عبدالعزیز زوی په کال ۱۳۷۵ هجري لمریز کال د لوګرولایت مرکز اړوند دپادخواب شانې پله خدر کلي کې په یو دینداره، متدینه او پله هیواد مینه کورنۍ کې دې نړۍ ته سترګې غړولي دي.

نوموړي دیني زده کړې دخپل کلي په جامع جوماتو کې ترسره کړي دي، له دې وروسته په پنځه کلنۍ عمر کې دکلي په ښوونځي کې شامل او په ۱۳۹۴ هجري لمریز کال کې دحامدکرزي دعالي لیسې څخه فارغ او په کال ۱۳۹۲ هجری لمریز کال د دارالمعلمین څخه خپل سند ترلاسه کړ. نوموړي دژورنالیزم په برخه کې نهه میاشتنی کورس دناور په تعلیمي مرکز کې په بریا ډول پای ته رسولی. ددې ترڅنګ یوکال دلنکن په ښوونیز مرکز کې خپلو هیوادوالو ته د رضاکار په توګه ښوونیز خدمتونه ترسره کړي دي.

نصیب الله مهمند چې دشعر او شاعري سره خورا مینه لري، تر دامهال یې یوه شعري ټولګه لیکلې ده، خو دمالي ستونزو له کبله ندی توانیدلی چې چاپ او خپور یې کړي، په دې هیله چې یوه ورځ د مهمند شعري ټولګه دهیوادوالو مخ ته پرته وي. په پای کې د مهمند صیب یو غزل نشرؤ.

غزل

سر ورکوو ژوندون فاني دی داغیرت نه پریږدو
مینه وروري کوو خو کله محبت نه پریږدو
موږ افغانان چې څه کوو سر ته هغه رسوو
پښتو مو ژبه پښتو کړو او صداقت نه پریږدو
نن سبا هر سړی پاچا ترخپلې وسې پورې
له ځانه تیر مرګ قبلوو خو انسانیت نه پریږدو
وخت دحساب راتلو راځي بلې حساب تللی نشو
ژوندون دمړې شمعې په شان دی آخرت نه پریږدو
یوه مړی وچه ډوډۍ خورو چاته لاس نه نیسو
دا پاکه خاوره غلې علې غرونه شجاعت نه پریږدو
مهمنده! ډیر دي کرم حیران پله دغو څو بیلتونو
ننګ او ناموس داخپل وجدان او خپل فطرت نه پریږدو